# مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۸ د غبرگولي ۱۹مه | د ۲۰۱۹ د جون نهمه | درېیم کال| ۳۸۳یمه گڼه


## د ولسمشریزو ټاکنو نوماندان: که حکومت د ټاکنو له مهندسي کولو لاس وانه خلي، ټاکنې به تحریم کړو



۳

### د جگړې شدت او د سولې خبرو برخلیک
۲ مخ

### نړیوال څنځیري ارزښت باید خراب نه؛ بلکې وساتل شي
۲ مخ

### افغانستان او روسیه؛ د یوې پېړۍ اړیکې او تازه بوختیاوې
۳ مخ

## د ټاکنو لپاره د رایې ورکوونکو د تقویتي نوملیکنې بهیر پیل شو

د ټاکنو خپلواک کمېسیون وېلي، د ولسمشریزو ټاکنو لپاره د رایې ورکوونکو د تقویتي نوملیکنې بهیر چې ۲۳ میلیونه ډالره لگښت به ولري، پیل او ۲۰ ورځې به دوام وکړي. د دغه کمېسیون د دارالانشا رییس حبیب الرحمن ننگ په کابل کې یوې خبري ناستې ته ویلي، د ولسمشریزو ټاکنو لپاره د رایې ورکوونکو د تقویتي نوملیکنې بهیر تېره ورځ په رسمي توگه پیل شو، چې د چنگاښ تر اتمې به دوام ولري. نوموړي د دې په څرگندولو سره چې د رایې ورکوونکو د تقویتي نوملیکنې بهیر پر شرایطو د برابرو هغو کسانو لپاره پیل شوی، چې نوی یې ۱۸ کاله عمر پوره کړی وي، افغانستان ته د راغلو کډوالو او د نوملیکنې له مخکینې بهیره د پاتې کسانو د نوملیکنې لپاره پیل شوی، زیاته کړې چې دغه بهیر په ۷۰۵ مرکزونو کې چې ۲۴۷ یې په غزني ولایت کې دي، ترسره کېږي. د سرچینې د معلوماتو له مخې، په غزني ولایت کې ځکه ډېر مرکزونه په پام کې نیول شوي، چې په نورو ولایتونو کې د ولسي جرگې ټاکنو لپاره نوملیکنه شوې، خو په غزني ولایت کې د یادو ټاکنو د نه ترسره کېدو له امله نوملیکنه نه ده شوې. هغه زیاته کړې، د نوملیکنې د بهیر ټول جزیات له امنیتي ادارو سره هم شریک شوي چې امنیت یې وساتي. د ټاکنو خپلواک کمېسیون مشرې حوا علم نورستانۍ ویلي، پر شرایطو برابر کسان کولای شي چې د سهار له اوو د مازدیگر تر څلورو بجو د نوملیکنې په مرکزونو کې خپل نومونه ثبت کړي. نوموړې د تقویتي نوملیکنې د بهیر د ټولیز لگښت اندازه ۲۳ میلیونه ډالره ښودلې او زیاته کړې یې ده چې دغه اندازه پیسې به د تقویتي نوملیکنې پر بهیر او د دغه بهیر لپاره پر عامه پوهاوي مصرف شي.

## د امریکا کانگرېس د دغه هېواد له بهرنیو چارو وزارته غوښتي چې په افغان سوله کې د ښځو حقونو ته پاملرنه وکړي



۵ مخ

پوهنتون
۴ مخ

## سلام پوهنتون

سلام پوهنتون په کورنیو پوهنتونونو سربېره، د نړۍ له ۱۱ معتبرو پوهنتونونو سره هم علمي اړیکې او هوکړې لري، چې له مخې یې خپل استادان او محصلین د زده کړو او نورو وړتیاوو لوړولو لپاره دغو هېوادونو ته استوي.




## د کانونو او پټرولیم وزارت په دبۍ کې ۴۳ پروژې داوطلبۍ ته سپاري




د کانونو او پټرولیم وزارت په دبۍ کې ۴۳ پروژې داوطلبۍ ته سپاري.


د دغه وزارت ویاند عبدالقدیر مطفي پرون ازادي راډیو ته ویلي، چې په دغو پروژو کې ۷ ستر قراردادونه شامل دي، چې هر یو یې بیا بېلابېلې برخې لري.

نوموړي په دې اړه ویلي: «په دې کې مرمر، سیمنټ او تالک شامل دي، مونږ دا پروژې داوطلبۍ ته سپارو، دا پروژې په میدان وردگ، پروان، هرات او کاپیسا کې دي».

نوموړي ویلي چې دوی به بهرني پانگوال دې ته وهڅوي، څو په افغانستان کې پانگونه وکړي، چې په دې سره به نه یوازې دا چې زموږ اقتصادي سیستم به پیاوړی شي، بلکې په کور دننه به ډېرو خلکو ته د کار زمینه هم برابره شي.

د یادو پروژو داوطلبۍ ته له سپارل کېدو، د یادو ولایتونو خلک هرکلی کوي او وایي، چې دوی ته به کاري زمینه برابره کړي.

## نشست دیروز ولسی جرگه باز هم به دلیل غیابت اکثریت اعضا برگزار نشد



نشست ولسی جرگه، دیروز نیز به دلیل غیابت اعضای این جرگه، در حالی برگزار نشد که اختلاف روی انتخاب رئیس، هنوز هم پابرجا است و ده ها سند تقنینی برای تعیین سرنوشت، به جرگه فرستاده شده‌است.

بعد از گشایش دور هفدهم تقنینی شورای ملی، در ۲۸ ثور در دور دوم انتخابات ریاست ولسی جرگه، برای پُست ریاست این جرگه انتخابات شد؛ اما روی نتایج آن اختلاف میان اعضای جرگه به وجود آمد.


تا کنون برای حل این اختلاف، سه هیئت توظیف شده است. دو هیئت موفق به حل این اختلاف نشدند و هیئت ده نفری که به تاریخ ۱۲ جوزا تعیین شده بود، تا کنون نتایج کار شان‌را با جرگه شریک نکرده است.

قرار بود دیروز هیئت ده نفری یاد شده، طرح تهیه شده برای حل این اختلاف را به نشست عمومی جرگه ارایه کند؛ اما نشست به دلیل غیابت اکثریت اعضای جرگه برگزار نشد.

هیئت مؤظف در دوازدهم جوزا، طرح تهیه شده برای حل این اختلاف را به نشست عمومی جرگه ارایه می کرد؛ اما در آن روز نیز نشست به دلیل غیابت اکثریت اعضای جرگه برگزار نشد.

میرویس یاسینی نماینده مردم ننگرهار در ولسی جرگه که دیروز در محوطهٔ شورا با خبرنگاران صحبت می کرد، تنش‌های به میان آمده در جرگه را به نفع ملت و دولت ندانسته و گفت که روز دوشنبه هفته جاری، یک بار دیگر آرشیف تصویری روز انتخابات بررسی خواهد شد تا به اختلافات نقطه پایان گذاشته شود.


Shigal English Academy




Easy English learning
+93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریځ

### د جگړې شدت او د سولې خبرو برخلیک

د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانگړی استازی زلمی خلیلزاد له طالبانو سره د اووم پړاو خبرو لپاره په نږدې وخت کې قطر ته ځي او له هغوی سره به د سولې په تړاو خبرې کوي. خلیلزاد له وړاندې ویلي چې دا ځل به خبرې ډېرې متفاوتې وي او ځینې مسایل به وروستي کړي. خلیلزاد تر دې خبرو وړاندې په اروپا کې خپل متحدین او پاکستاني چارواکي هم کتلي او ترې غوښتي يې دي چې د سولې په چاره کې مرسته وکړي.

خو دا ځل به رښتیا هم په خبرو کې کوم مهم پرمختگ وشي؟

خلیلزاد په داسې وخت کې قطر ته ورگرځي، چې د سولې په تړاو د جدي خنډونو خبرې کېږي. له یوه اړخه شپږم پړاو خبرې له جدي خنډونو سره مخ وې او له دواړو اړخونو داسې غوښتنې شوې وې، چې خبرې يې ستونزمنې کړې. له بله اړخه طالبان تر کم ساري نظامي فشار لاندې دي. داسې ښکاري چې په اووم پړاو کې به طالبان دغو دوو مسایلو ته جدي پام کوي. امریکا بیا بیا له طالبانو غوښتنه کوي، چې تاوتریخوالی را کم کړي، اوربند وکړي او یا هم جگړه کمه کړي، خو له خپله اړخه بیا تاوتریخوالی زیاتوي. خپله امریکایان مني چې یوازې په یوه میاشت کې يې نږدې ٦٥٠ بمونه پر طالبانو غورځولي دي، چې هره ورځ تر شلو ډېر بمونه کېږي. ځینو نظامي چارواکو يې دا هم ویلي، چې دا بریدونه به زیاتوي. که څه هم په دغو بریدونو کې ډېری ملکي وگړي وژل کېږي، خو طالبانو ته يې هم درنه مرگ ژوبله اړولې ده. اوس چې د خبرو اووم پړاو پیلېږي، نو طالبان به له خلیلزاد سره په جدیت دا بحث مطرح کوي، چې د سولې خبرې او دومره نظامي فشار پر یو وخت څه مانا لري. طالبان د خپل مجبوریت پر اساس هم دا بحث مطرح کوي، ځکه چې پرله پسې د جگړې له ساحو او نظامیانو دا پیغامونه تر لاسه کوي، چې امریکا نظامي فشار ډېر کړی او د سولې خبرې گټه نه کوي. له همدې امله به دا بحث په جدیت مطرح کړي. که امریکا د طالبانو دا بحث جدي وانه خلي او ستونزه حل نه کړي، نو وېره ده چې خبرې به له لویې ناکامۍ سره مخ شي. دویم بحث دا دی چې طالبان به نور امریکایي چارواکو ته واضح ووايي چې د بهرنیو ځواکونو د وتلو او د چا پر ضد د افغان خاورې نه د استعمال بحثونه باید دا ځل وروستي شي او په همدې اووم پړاو کې پرې توافق وشي. خلیلزاد به بیا ټینگار وکړي چې له دې سره باید طالبان له افغان حکومت سره خبرې او اوربند هم ومني او دا هغه څه دي چې طالبان يې لا هم منلو ته تیار نه دي. له همدې امله به یا امریکا تنازل کوي او یا به هم طالبان نرمي ښيي چې شونتیا يې کمه ده.

په دې ډول په اووم پړاو خبرو کې به جدي بحثونه وشي او که مهم پرمختگونه پکې ونه شي، نو د سولې روان بهیر به له لوی خنډ سره مخ شي. څه چې دا پرمختگونه له خنډ سره مخ کوي، هغه د امریکا له چل او ول نه ډک سیاست او د طالبانو «یوه خبره» ده چې تنازل ترې نه کوي.



# نړیوال څنځیري ارزښت باید خراب نه؛ بلکې وساتل شي

لیکنه: په افغانستان کې د چین لوی سفیر لیو جېن سونگ

یو نیم کال کېږي چې افغانستان ته راغلی یم او په دې موده کې مې د افغانستان هغه لویه اراده ډېره احساس کړې، چې په وچه کې راگیر هېواد پر وچې نښلېدونکي هېواد ځان بدلوي. افغانستان د اسیا زړه دی او د سوداگرۍ د نړیوال سازمان غړی هم دی، نو همدا لامل دی چې دغه هېواد متقابل پیوستون او ازادې سوداگرۍ ته ډېره پاملرنه کوي او د کاري فرصتونو او شتمنۍ جوړونه پر نړیوالې سوداگرۍ او پانگونې پورې تړي. غواړي د صنایعو، عرضې او نړیوال څنځیري ارزښت کې لامساعد ځای خپل کړي. افغانستان د سوداگریزو مسئلو له سیاسي کېدو سره مخالفت کوي او غوښتنه کوي چې نړیواله ټولنه دې د پرمختیایي هېوادونو، په تېره بیا د تر ټولو وروسته پاتې هېوادونو رښتینو حالاتو ته توجه وکړي، همدارنگه دغه هېواد غواړي چې خپل عرضي څنځیر د چین له څنځیري ارزښت سره ونښلوي.

چین د افغانستان پر یادو حقه غوښتنو ډېر ښه پوهېږي او ورڅخه کلک ملاتړ کوي او د وربښمو په لرغونې لاره کې د افغانستان د پخوانۍ جلوې د بیا رامنځته کېدو او د سیمې پر ټرافیکي او سوداگریز محور د بدلولو په برخو کې تر وسې پورې ورسره همکاري کوي. چین په همدې هدف وړاندیز وکړ، چې له افغانستان سره په گډه (یو کمربند - یوه لار) جوړ کړي. د دې لپاره يې مستقیم هوايي پروازونه او د بارچلونې اورگاډي پرانیستي، له افغانستان سره يې د نړیوالې رېل پټلۍ او د نوري فایبر کېبل د جوړولو په اړه بحث کړی او له افغانستان سره د چین او پاکستان د اقتصادي دهلېز د نښلولو لپاره يې هڅه کړې ده.

چین افغانستان ته خپل بازار پرانیستی او د کمو گمرکي تعرفو له لارې د افغانستان مرمر، زعفران، جلغوزي، قالینې او داسې نور محصولات راجلب او قبلوي. دغه راز د دواړو هېوادونو د سوداگرو تگ راتگ ته يې انسانتیاوې برابرې کړې او پیاوړې چینایي تصدۍ يې دې ته هڅولې، چې په افغانستان کې پانگونه وکړي. چین هر کال څه باندې ۱۵۰ سکالرشیپونه افغان محصلینو ته برابروي او د افغانستان لپاره د لرې کنټرولېدونکو سپوږمکیو په گډون، په عصري تخنیکونو او نورو برخو کې تر زرو زیات مسلکي کارکوونکي روزي، له افغانستان سره د اغېزمنو او نویو عصري تخنیکونو د تسلط په برخه کې هم مرسته کوي او پر هغه چینایي متل ټینگار کوي چې وايي: «نورو ته دې د ماهي ورکولو تر څنگ، باید د ماهي د نیولو طریقه هم ور زده شي».

ما ته خپلو افغان ملگرو په صمیمانه ډول دا وویل چې د افغانستان په اړه د چین هره کړنه او هره خبره د مسوولیت منونکي لوی هېواد په توگه، د چین ښه او له افغانستان سره د چین ورورولي او دوستي ښکاره کوي. افغانستان د لویو هېوادونو همکاریو ته اړتیا لري او هیله لري چې لوی هېوادونه په مسوولانه ډول اړوندې چارې ترسره کړي، یوازې له همدې لارې کېدای شي چې په افغانستان کې سوله او سمسورتیا ژر راشي، خو په دغو ورځو کې افغان ملگري د متقابل پیوستون او نړیوالې سوداگرۍ له امله ډېرې اندېښنې لري. ټولو ته يې لامل معلوم دی، یعنې چینایان لارې جوړوي، خو په ورته وخت کې یو بل لوی هېواد پکې دېوالونه جوړوي، چینایان څو اړخېزم هڅوي، خو یو بل لوی هېواد یو اړخېزم پورته کوي، چینایان بازار خلاصوي، خو یو بل لوی هېواد په بازار کې خنډونه جوړوي، چینایان د گمرکي تعرفو د کمولو لپاره هڅه کوي، خو بل لوی هېواد د نړیوالو قوانینو هېڅ پروا نه ساتي او له خپلو پولو څخه په تېرېدو نورو سیمو ته لاسونه اوږدوي.

په نړیوال څنځیري ارزښت کې افغانستان هم ونډه لري او گټې يې ترې اخیستې دي. د دغه څنځیر عادي روانېدل دریو شرایطو ته اړتیا لري. لومړی؛ د دغه څنځیر بېلابېلې کړۍ یو له بل سره نښلول کېږي او نه سره جلا کېږي او د نښلولو شکل يې په عمده توگه تخنیک دی. دویم؛ په څنځیر کې د بېلابېلو غاړو موقعیت بدلېدونکی دی. درېیم؛ د څنځیر عمده برخه تصدۍ دي او د بېلابېلو هېوادونو د تصدیو د ډیزاین، تولید، خرڅلاو، لېږدونې او داسې نورو اړوندو فعالیتونو ټولگه هم ده، نو له تصدیو سره د بېلابېلو هېوادونو عادلانه او دوستانه سلوک او د سوداگرو له روحیې او د بازار له منظمې سیالۍ څخه د دوی ملاتړ د ارزښت د نړیوال څنځیر د سالم پرمختگ لپاره ډېر مهم دی.

د اندېښنې وړ خبره دا ده چې یو هېواد د نړیوال څنځیري ارزښت د تیورۍ د نوښت کوونکي په توگه د دغه څنځیر په هسکه کې ولاړ دی او ورڅخه يې تر ټولو زیاتې گټې ترلاسه کړې دي، خو نن دغه هېواد یاد درې اساسي شرایط له پامه غورځولي او کمزوري کړي يې دي او نړیوال څنځیري ارزښت يې سخت خراب کړی دی.

دغه هېواد یوازې د ارزښت له څنځیر څخه گټه اخیستل غواړي او د خطرونو د پر غاړه اخیستو بیه نه غواړي. دغه راز هغه دا نیت هم لري چې له نړیوال څنځیري ارزښت څخه ووځي او نوی څنځیر جوړ کړي. د دغه نوي څنځیر د جوړولو اصول د ټولو له خوا د سلامشورو له لارې نه؛ بلکې په یوازې ځان يې ټاکي.

دغه هېواد غواړي چې تل د ارزښت څنځیر په سر کې ناست وي،زیاتې گټې ترې تر لاسه کړي او تخنیکي باداري د امکان تر حده خپره کړي. هغه د دغو موخو لپاره پر نورو د بندیز لگولو له لارې دغه څنځیر پرې کوي او د هېوادونو ترمنځ اقتصادي اړیکې او د ټکنالوژۍ او استعداد لرونکو کسانو تبادلې يې له څنځیر څخه بېلې کړې دي.

کله به چې دغه هېواد د خپل ځان او خپلو تصدیو پر وړاندې د سیالۍ فشارونه لیدل، هغه به پر خپلو کړنو له سره کتنه نه کوله او د پرمختگ لپاره به يې خپله ټکنالوژي او اداره نه نوې کوله او نه یوازې خپل بازار نه اصلاح کوي؛ بلکې د ټول دولتي قوت په راټولولو سره په تېره بیا د ټولو دولتي دفاعي سامانونو په کارولو سره د نورو هېوادونو پرمختللې تصدۍ ځوروي. ما ته افغان ملگرو وویل چې دغه هېواد د نړۍ تر ټولو قوي هېواد دی، خو هر وخت پر بد نیت چورت وهي او په هره ممکنه لاره يې د یوې تصدۍ مالي مسوولې ته چې نړیوال ورته درناوی لري او کارونه يې هم د قانون تابع دي، دسیسه جوړه کړې او غواړي چې نور هېوادونه وډار کړي او دغسې کړنه د اشرف او متمدن هېواد کار نه دی؛ بلکې د حیرانتیا او سپکاوي وړ کار دی.

چین او افغانستان دواړه پرمختیایي هېوادونه دي او د ملگرو ملتونو او د سوداگرۍ د نړیوال سازمان غړي هېوادونه هم دي. دواړه هېوادونه په دې اند دي، چې د اقتصاد نړیوالتوب او نړیوال څنځیري ارزښت د زماني له پرمختیایي لوري سره سمون لري او د مخنیوي وړ نه دی. دواړه هېوادونه د بازار پر پرانیستنې، ازادې سوداگرۍ او څو اړخیزم ټینگار کوي او د سوداگرۍ د نړیوال سازمان اصول مراعتوي او ساتنه يې کوي.

د افسوس خبره دا ده چې چین او افغانستان جاري نړیوال نظم او بازاري اصولو ته په درنه سترگه گوري، خو ځینې هېوادونه بیا برعکس په جدي او درنه سترگه نه ورته گوري.

ځینې بیا غواړي چې پرمختیایي هېوادونه له خپلو حقونو محروم کړي او د جنوب او شمال د پرمختیا تفاوت او څنځیري ارزښت کې اوسنۍ درجه بندي همېشه په خپله سویه کې پاتې وساتي او نه غواړي چې د پرمختیایي هېوادونو تصدۍ او تولیدات ترې مخکې شي. دغه هېواد په یادو کړنو سره هم نورو ته او هم ځان ته زیانونه رسولي او پر خپلې اقتصادي ودې او د نړیوال څنځیري ارزښت پر پرمختگ يې منفي اغېزه کړې ده. که دغه کړنې زیاتې او پراخې شي، نو لوی هېوادونه کولی شي چې پر خپلو کورنیو بازارونو د تکیې کولو له لارې د زیانونو مخه ونیسي، خو کوچنې او په وچه کې راگیر هېوادونه به تر ټولو سخت او مستقیم زیان لاندې وي.

چین په ډېره صمیمانه توگه له نورو لویو هېوادونو سره اقتصادي او سوداگریزې خبرې کوي او د خبرو اترو په پروسه کې د متقابل درناوي، مساواتو او گډو گټو پر اصولو ټینگار کوي او د یوه داسې تړون د راوستلو په هڅه کې دی، چې د دواړو خواوو لپاره د منلو وړ وي. هغه یو متل دی چې وايي: «له یوه لاس څخه ټک نه خېژي». اوسمهال ستونزه دا ده، که د خبرو اترو یوه خوا د تسلط او باداري غوښتنې لویه څپه پورته کوي، پر نورو تر ډېرې اندازې فشارونه اچوي او خپلې کړې ژمنې نه پلې کوي، نو د خبرو اترو عدالت چېرې دی؟ که یوه خوا د بلې خوا حاکمیت او اصلي گټو ته درناوی ونه کړي، د بلې خوا د جوړجاړي په موخه پرې فشارونه واچوي او غواړي د خبرو اترو نتیجه یوازې د ځان په گټه وڅرخوي، نو په داسې حالت کې به د خبرو اترو د بریالیتوب شونتیا وي؟

چین خپلو ملي او نړیوالو عامو گټو ته په کتو، سوداگریزه جگړه نه غواړي، خو ورڅخه ډاربېږي هم نه. که ضرورت وي، نو د مجبوریت له مخې به جگړه وکړي او تر اخري شېبې پورې به مقاومت ته دوام ورکړي. پر دغه دریځ افغان ملگري په اسانه پوهېدای شي، ځکه دا د هغو هېوادونو لپاره ضروري انتخاب دی، چې لرغونی مدني تاریخ او ټینگ ملي وقار لري. د چین دریځ نه یوازې د ځان لپاره؛ بلکې د عرضې، صنایعو او ارزښت د نړیوالو څنځیرونو د عادي روانېدو او ساتلو لپاره او هم د افغانستان په گډون د پرمختیایي هېوادونو د عمومي گټو او پرمختیایي فضا د دفاع لپاره دی.

# امریکایي او روسي جنگي بېړیو یو بل ته گواښوونکي حرکتونه کړي دي



امریکا او روسیې پر یو بل تور پورې کړی چې په فلیپین سمندر کې يې جنگي بېړیو غیر مسلکي او گواښوونکی حرکت کړی دی.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې هم د دواړو هېوادونو جاسوسي او کشفي الوتکې د دواړو هېوادونو له پولو سره په نږدې سیمو کې له یو بل سره نږدې شوې دي، خو دا لومړی ځل دی چې په اوبو کې د دغو دواړو هېوادونو جنگي بېړۍ دومره یو بل ته نږدې شوې دي.

د پاسیفیک فلیټ په نوم د روسیې جنگي بېړۍ د جون په اوومه تور پورې کړ، چې امریکایي جنگي بېړۍ ورته دومره نږدې شوې وه، چې د ټکر شونتیا يې زیاته وه.

د امریکا له لوري په یوه اعلامیه کې ویل شوي، چې روسۍ جنگي بېړۍ په ناخوندي مانور سره امریکایي بېړۍ ته نږدې ورغله، چې د خپلې عملې او بېړۍ امنیت يې په خطر کې واچاوه.

اعلامیه زیاتوي چې د دې ناخوندي عمل په نتیجه کې امریکایي چانسلرویل بېړۍ اړ شوه، چې خپل ټول انجنونه د شاتگ په خاطر پر کار واچوي او د ټکر مخه ونیسي.

خو د روسیې سمندري ځواکونو بیا ویلي، چې یادې امریکایي جنگي بېړۍ په گواښوونکي اقدام سره لوری بدل کړی او د روسي بېړۍ په پنځوس مترۍ کې مخې ته تېره شوې ده.

د امریکا د دفاع سرپرست وزیر پاټریک شاناهان په ورجینیا ایالت کې خبریالانو ته ویلي، چې امریکا به په رسمي توگه روسیې ته په دې اړه شکایت وکړي.

هغه زیاته کړې: «دې ناخوندي او غیر مسلکي چلند پرته له شکه زموږ ښځې او سړي له خطر سره مخ کړل، د دوی له مسلکیتوبه مننه چې هېڅ پېښه رامنځته نه شوه، زموږ پوځ به د دې عمل په نتیجه کې له روسي پوځ سره تماس ونیسي او بیا به زموږ ډیپلوماټیک ماموریت روسانو ته شکایت وکړي». په ورته وخت کې د امریکایي سمندري ځواکونو په خپرو کړو ویډیوگانو کې ښکاري، چې دواړه بېړۍ یو بل ته نږدې په سرعت روانې دي.

دغه پېښه وروسته له هغې شوې چې په مدیترانې سمندرگي کې د امریکا سمندري ځواکونو د روسیې پر (Su-۳۵) الوتکو تور پورې کړ، چې په ناخوندي توگه يې د یوې امریکایي الوتکې مخه نیولې وه. واشنگټن او مسکو هغه مهال هم پر یو بل تورونه پورې کړل.

امریکا ادعا کړې وه چې سوریې ته نږدې یوې روسۍ جنگي الوتکې د امریکا د یوې کشفي الوتکې مخه نیولې وه.

# افغانستان او روسیه؛ د یوې پېړۍ اړیکې او تازه بوختیاوې

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

افغان-روس ډیپلوماټیکې اړیکې سره له دې چې په تاریخي منظر کې د احمدشاه بابا او امیر شیرعلي خان تر دورو رسېږي؛ خو د معاهدو او پوهاوي لیکونو په کچه دغه دوره د غازي امان الله خان له دورې پیلېږي. افغان-روس اړیکې یوازې تشریفاتي او سمبولیکې نه دي پاتې شوې، دغو اړیکو له لرغونو سره راشه درشه نیولې بیا د محمدظاهرشاه او محمدداوود خان تر واکمنیو او د ثور تر کودتا بیا تر دې دمه فعالې او بوختې مرحلې لرلې دي. شوروي په افغانستان کې د انکشافي پروژو، تعلیمي بورسونو او فرهنګي مشارکتونو تر څنګ، دلته نظریاتي او نفوذي بوختیا او د دې بوختیا په تناظر کې د ځانګړو خلقي ګوندونو او وروسته د ځینو جهادي تنظیمونو د حمایې له لارې د افغانستان د وروستۍ نیمې پېړۍ په لویو قضیو کې د دخیل او مطرح لوبغاړي په توګه نقش لرلی دی.

**افغان- روس اړیکې؛ د یوې پېړۍ پس‌منظر**

کله چې غازي امان الله خان له انګلیس څخه د استقلال جګړه وګټله او په داخلي او خارجي سیاستونو او چارو کې یې د بشپړې خپلواکۍ اعلان وکړ، شوروي له لومړیو هېوادونو و، چې دغه نوې خپلواکه شاهي یې په رسمیت وپېژندله او وروسته بیا د دواړو هېوادونو تر منځ په لومړۍ معاهده کې د افغانستان د خپلواکۍ پر رسمیت منلو سربېره، د دواړو هېوادونو تر منځ همکارۍ لاسلیک شوې. تر دې وروسته بیا د نظامي تړون په لاسلیک کولو سره شوروي له افغانستان سره نظامي مرستو ته ژمن شو او په دې سلسله کې ځینې افغان زده کوونکي د پیلوټۍ په برخه کې شوروي ته ولاړل. تر دې ورهاخوا د لېنن او غازي تر منځ د لیکونو تبادله هم ترسره شوې وه.

دغه اړیکې د غازي امان الله خان د واکمنۍ تر سقوط وروسته، د محمدنادر خان په پاچاهۍ کې بیا ځلې د معاهدې په لاسلیک کولو سره تجدید شوې. د محمدظاهرشاه په واکمنۍ کې بیا هم له شوروي اتحاد سره د پخوانیو معاهدو په تعقیب نورې معاهدې لاسلیک شوې. په دغه مرحله کې د افغانستان پرمختګ لپاره ماسټرپلانونه طرحه شول، د محمدداوود خان په صدارت کې لومړنی پنځه کلن ماسټر پلان طرحه شو، دغه پلان له ۱۹۵۶-۱۹۶۱ ز کال پورې و، د دغه پلان لپاره شوروي کادرونه کابل ته راغلل او د پلان وزارت کې یې د افغانستان لپاره ماسټر پلان طرحه کړ. ورپسې دویم ماسټر پلان، درېیم ماسټر پلان او بیا د ثور په کودتا سره نوی ماسټر پلان هم طرحه شو، خو بریالي ماسټر پلانونه لومړني دوه ماسټر پلانونه وو، چې له امله یې په لسګونه سترې زېربنایي پروژې بشپړې او ګټنې ته وړاندې شوې.

دا چې محمدداوود خان په چپي ګوندونو په ځانګړي ډول پرچم کې ملاتړ درلود او له بلې خوا په سیمه کې نوي جغرافیوي تغیرات داسې وو، چې په کې امریکا د افغانستان په نسبت پر پاکستان ډېر باور کاوه؛ له همدې امله افغانستان له شوروي سره تودې اړیکې جوړې کړې، البته دا په دې مانا نه چې ګنې د شوروي په وړاندې د اړیکو د توازن هڅه نه وه شوې، افغانستان د خپلو نظامي او اقتصادي پرمختګونو لپاره د امریکا د توجه را اړولو ډېره هڅه وکړه؛ خو هغوی د دغسې توجه په حد کې نه وو، خو بیا هم امریکا په افغانستان کې ځینې لویې پروژې حمایه کړې. په دغو لویو پروژو کې د کندهار هوایي میدان، د هلمند وادي پراختیایي پروګرامونه، د کجکي برېښنا بند او داسې نور شامل وو.

په هر صورت، د امریکا او په مجموع کې د غرب په مقابل کې شوروي اتحاد له افغانستان سره په پراخه کچه اقتصادي- اجتماعي میدانونو کې مرستې وکړې. د شوروي اتحاد د مرستو عمده خاصیت دا و، چې هغوی دلته زېربنایي پروژې ابادې کړې، دغه پروژې تر دې مهاله د افغانستان لپاره زېربنایي دي، حتی د امریکا په تېر اتلس کلن شتون کې او د دوی په دا دومره ډېرو ډالرو کې دوی داسې زېربنایي جوړښتونه رامنځته نه کړل، چې د نیمې پېړۍ مخکې شوروي له زېربنایي پروژو سره دې پرتله شي. د امریکایي پېر پروژې اکثره روبنایي او لنډمهاله دي.

په افغانستان کې له دغو زېربنایي پروژو سره شوروي مرستې هم بلا عوضه وې او هم اوږدمهاله پورونه وو. دغو پروژو افغانستان د صنعتي کېدو خواته بېوه، په هغسې یو فقیر او ناصنعتي افغانستان کې د شوروي سوسیالیستي مبارزو لپاره نه فیوډالان وو او نه کارګران. شاید د دغو ډېرو پروژو په ابادۍ کې دا فلسفه نغښتې وه، چې لږ تر لږه دلته کارګري طبقه رامنځته کېده او په دغو کارګرانو کې بیا د شوروي اتحاد په سبک کارګري اتحادیې ایجادېدې، دغو اتحادیو بیا په خپل نوبت د مارکسېزم په فلسفه کې د انقلاب شعار پورته کاوه.

**په افغانستان کې د شوروي اتحاد زېربنایي پروژو څو بېلګې**

د کابل او بغلان سیلو، د جنګلک موټر جوړونې کارخانه، د درونټې او نغلو برېښنا بندونه، ننګرهار د اوبو کانالونه، ننګرهار د مالټو او زیتونو فارمونه، کابل- پلخمري لوی سړک، د کندهار، هرات او تورغونډۍ لوی سړک، د سالنګ تونل، د کابل، بګرام، شینډنډ، کندهار او کندوز هوایي میدانونه، د کابل مکروریان، د کابل څلورسوه بستریز روغتون، بېلابېلې کارخانې لکه؛ د مزارشریف کیمیاوي سرې کارخانه او د کابل کورجوړونې کارخانه، په شمال کې د ګاز او نفتو تفحصات، په کابل کې د پولتخنیک پوهنتون او داسې نورې په لسګونو پروژې.

کله چې خلق ګوند پر محمدداوود خان کودتا وکړه، تر دې مرحلې وروسته بیا هم معاهدې لاسلیک شوې، خو د افغانستان دودیزې ناپېیلې ډیپلوماسۍ له شوروي سره د خلق ډیموکراټیک حکومت نظریاتي خپلولۍ ته ځای پرېښود. په دغه مرحله کې د خلق ډیموکراټیک حکومت او شوروي چارواکو تر منځ اړیکې خورا تودې شوې او دوی په پرانیستي ډول د لویو لویو وطنیو قضیو په اړه ګډ مجلسونه، ټلیفوني اړیکې او راشه درشه درلودل. دغه اړیکې د ملي حاکمیتونو پر ځای د نظریاتي او مارکسېستي شریکانو کچې ته شول.

**ډیپلوماټیکه سلیزه؛ د بوختیا تازه پړاو**

د ۱۹۱۹ ز کال د مې اووه ویشتمه د افغان-روسیې په تاریخ کې د لومړنۍ ډیپلوماټیکې اړیکې ورځ په نوم یادېږي. دغه اړیکه له انګلیسه د ازادۍ ګټونکي غازي امان الله خان او نوي رامنځته شوي شوروي اتحاد تر منځ رامنځته شوه او وروسته بیا دا اړیکه په بېلابېلو دورو کې نوره هم ټینګه شوه. له ۱۹۱۹ تر ۲۰۱۹ ز کال پورې یوه پېړۍ زمانه ده او په دې زمانه کې افغانستان او شوروي اتحاد، د دوو سیالو هېوادونو له سطحې نیولې، د شوروي اشغال تر حده د اړیکو لوړې ژورې دواړه تجربه کړې.

کله چې د ۲۰۱۹ ز کال د مې ۲۷مه رارسېده، د پخواني شوروي اتحاد ځایناستي روسیې دغه ورځ د دودیزې یادونې پر ځای، د افغانستان په قضیه کې د یوې فعالې ډیپلوماسۍ د ور په توګه وکاروله. که نه؛ روسیه له نورو هېوادونو سره هم ورته د لومړنیو ډیپلوماټیکو اړیکو ورځې لري؛ ایا کله یې دغسې ورځې په ځانګړیو ترتیباتو نمانځلې دي؟ خو دا یو ښه پرمختګ دی، روسیې د محمدداوود خان د واکمنۍ تر سقوط وروسته، په افغانستان کې د مستقیمې او نامستقیمې جګړې سیاست لرلی دی، نن چې دوی په افغانستان کې د سولې خبره لري، دا هغه مشترکه ګټه ده چې روسیه او افغانستان دواړه په کې شریک دي او ورته اړتیا لري.

د افغانستان له ښکېلو لوریو سره د روسیې د اړیکو په منظر کې دا تحول هم نوی دی، چې روسیه له طالبانو سره د خبرو اترو او اړیکو له مخې د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې د ځانګړیو تنظیمي اړیکو حصار ماتوي او دا اړیکې هم په تنظیمي لحاظ او هم په ایتنیکي لحاظ متنوع کوي.

که روسیه له زړه غواړي چې په افغانستان کې سوله راشي؛ نو اړینه ده چې د داسې خبرو اترو چاپېریال رامنځته کړي، چې هلته د طالبانو، افغان حکومت او بېلابېلو معتبرو سیاسي- اجتماعي لوریو جدي او ارزښتي خبرې اترې ترسره شي. دا چې د مسکو په دغه فورم کې ټول افغان لوري او ورسره روسیه هم له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو پر وتلو سلا دي او پرې ټاکید کوي؛ دا د افغانستان د ملي ګټو لوړه څوکه ده. هیڅ افغان نه غواړي چې هېواد کې دې یې بهرنیان پر جنګېدونکي مشن پراته وي، دا د افغانستان د ملي خپلواکۍ تر ټولو لویه داعیه ده او افغانان په دغه داعیه کې تل مبارز پاتې شوي دي.

د جهادي کرښې یوه تجربه شوې قضیه دا هم ده، چې د دوی ډېر تمرکیز پر جنګ راټول وي، دوی د سیاسي، اقتصادي او ټولنیزې بوختیا لپاره لازم تیاری او تمرین نه لري، له همدې امله دوی تل د جنګ له زاویې مسایلو ته ننوځي او دا یو حقیقت دی چې د جنګ دا زاویه تل د بېلابېلو فکټورونو تر اغېز لاندې لویه او کوچنۍ کېږي. طالبان باید په دې مرحله کې د سولې په قضیه کې د پخوانیو جهادي تنظیمونو تجربه له پامه ونه غورځوي، د سولې لپاره مناسب وختونه تل نه مهیا کېږي او په جنګ او سوله کې ځواکمنتیا هم تل نه وي. همدغه مناسب وخت او ځواکمن وجود په سوله کې ثوربه برخه ټاکي. پخوانیو جهادي تنظیمونو چې د سولې د اړتیا پر مهال به یې سوله ټوله د خپلو معیارونو پر بستر غوښته؛ خو داسې مرحلې هم پرې راغلې چې بیا په کې دوی ټول له خپل بستر سره په وطن کې د شپو او ورځو درک نه لرلو. طالبان د قضیې د یو خورا مطرح لوري په توګه نن د خپل عروج پر هسک دي، دوی ته پکار دي چې د سولې پر نازکو لارو پوه وي.

طالبان د خبرو اترو په مسیر کې باید یوازې له خپله لیده ونه ګوري، د افغانستان قضیه په غټه کې یوه ملي قضیه ده او دلته حتی د کوچني نفوذي ګروپ له پامه غورځول د راتلونکي بلې فاجعې لپاره بس دي. له طالبانو سره دا ښه ښکاري، چې دوی په افغاني کچه له افغان حکومت سره د خبرو اترو محور نفی نه کړي. که طالبان له افغان حکومت سره خبرې اترې ونه کړي، نو په دې صورت کې یوازې د بهرنیانو وتل به هیڅکله دغه جنګ ته پای ورنه کړي. د بهرنیانو لپاره دا ډېره اسانه او ارزانه ده، چې دلته دې د هغوی ځاني تلفات نه وي، خو د هغوی جنګ دې دلته دوام ولري او دغسې ارزانه جګړه هغوی پورته کولای شي.

که روسیه غواړي په افغانستان کې مثبت نقش تر سره کړي او ښې اړیکې له سره پیل کړي؛ نو د سولې په قضیه کې باید ناپېیلتوب او ښه اراده ثابته کړي. له دې ورهاخوا روسیه باید د افغانستان په بیارغونه کې سخاوتمندانه برخه واخلي. په دې ډول به دوی له یوې خوا د هغه جنګي تاریخ څېرکی وتړي، چې دوی په کې دلته تر یو میلیون شوروي عسکر په دوراني ډول بوخت ساتلي وو، له بلې خوا به د نوي افغانستان په زېربنا کې روسیه عملاً د خپلې دوستۍ ثبوت ورکړي. روسیه باید دا درک کړي چې دوامداره کراري او امن، له اقتصادي پرمختیا او ټیکاو پرته امکان نه لري او کله چې دغسې ټیکاو په افغانستان کې نه وي، نو د دې جنګ اورونه بیا په افغانستان کې نه تمبېږي او دا به د روسیې پر واقعي پولو اوړي.

په افغانستان کې د روسیې د انکشافي همکارۍ لپاره دا هم اړینه ده، چې افغان حکومت د روسیې د مرستو جلبولو او تطبیق لپاره شرایط برابر کړي. لږ تر لږه افغان حکومت باید د روسیې هغه ژمنې تعقیب کړې وای، چې دوی په کې له ۱۳۹۲ لمریز کال را په دېخوا د پخواني شوروي اتحاد د نیمګړو پروژو د بشپړتیا او بیارغاونې وعدې کړې وې. دا تعقیب د امریکا او سیمه ییزو قدرتونو تر منځ د افغانستان ناپېیلتوب په زبات رسوي او دا د افغان حکومت په رهبرۍ پورې اړه لري، چې څرنګه کولای شي د امریکا او ناټو شتون د روسیې د مرستو جلبولو لپاره د ننګونې پر ځای پر یو فرصت تبدیل کړي.

## د ولسمشریزو ټاکنو نوماندان: که حکومت د ټاکنو له مهندسي کولو لاس وانه خلي، ټاکنې به تحریم کړو



د ولسمشریزو ټاکنو نوماندان وایي، حکومت سر له اوسه د ولسمشریزو ټاکنو مهندسي کول پیل کړي او که دغه پروسه همداسې دوام وکړي، دوی به ټاکنې تحریم کړي.

نوماندان وايي، د ولسمشر غني د کاري مودې له پای ته رسېدو سره سره، نوموړي د قانون خلاف په لوړه کچه کمپاینې ګومارنې کوي او هڅه کوي چې د راتلونکو ټاکنو پایلې په خپله ګټه را وګرځوي.

دوی دغه راز وایي، د مدني حرکتونو لپاره روانه اونۍ چمتووالی نیسي او که غوښتنې یې ونه منل شي، راتلونکې ولسمشریزې ټاکنې به تحریم کړي.

ولسمشریزو ټاکنو ته ولاړ نوماندان ادعا کوي چې حکومت په ناقانونه توګه د یوه مشخص ټیم په ګټه له دولتي امکاناتو استفاده کوي.

د ولسمشریزو ټاکنو د نوماندانو له ډلې فرامرز تمنا وایي: «اوسنی روان وضعیت د افغانستان په ګټه نه دی. د یو ځانګړي ټیم په ګټه له دولتي امکاناتو ګټه اخیستنه، د ملت په ګټه نه ده، په حکومت کې په لوړه کچه روانې ګومارنې هغه هم په داسې حال کې چې ټاکنو ته لږ وخت پاتې دی، د ټاکنو د مهندسي کېدو په مانا دي».

یاد نوماندان په داسې مهال کې نیوکه کوي چې د غبرګولي له لومړۍ وروسته، د ولسمشر غني د کار دوام غیر قانوني دی او باید صلاحیتونه یې محدود شي.

دوی دغه راز وایي، په دې وروستیو کې د حکومت د خپلسریو او ناقانوني کړنو له کبله روانه اونۍ د مدني حرکتونو لپاره هم چمتووالی نیسي او ډېر ژر به په ټول هېواد کې پراخ مدني حرکتونه پیل کړي.

ولسمشریزو ټاکنو ته نوماندان وایي، هیله لري چې غوښتنې یې ومنل شي، خو ګواښ کوي که یې غوښتنې ونه منل شي او له دولتي امکاناتو څخه د یوه خاص ټیم په ګټه همداسې استفاده وشي، له هرې ممکنه لارې به کار واخلي او ټاکنې به تحریم کړي.

تمنا زیاتوي: «هیله من یو چې د ملي یووالي حکومت اوسني مشران به روانې ډیکتاتورۍ ته د پای ټکی کېږدي او اجازه ورنه کړي چې د یوه ځانګړي ټیم په ګټه له دولتي امکاناتو ګټه واخلي. که حکومت خپل صلاحیتونه محدود نه کړي او روانې ګومارنې پای ته ونه رسوي، د ولسمشریزو ټاکنو نوماندان به په ټولیز ډول ټاکنې تحریم کړي».

ولسمشریزو ټاکنو ته دغه نوماندان داسې مهال حکومت د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو پر مهندسي کولو تورنوي، چې د ولسمشریزو ټاکنو د تر سره کېدو لپاره شاوخوا څلور میاشتې پاتې دي.

## د کتاب خبرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میراحمد یاد

### یوولسم څپرکی
**«ماته» څنګه «بری» کړو؟**




اورویل هوبارډ اوولس کاله په میشیگان کې ښاروال او د ښار مشهوره څېره و. دی د ښاروال کېدو له کاله مخکې په یوه بهانه له سیاسته وتلی شو.
څکه دی درې ځله د ښاروالۍ په ټاکنو کې ناکام شوی و، درې ځله د ولایتي شورا په ټاکنو کې ناکام شوی و او یو ځل د کانګریس په ټاکنو کې هم ناکام شوی دی.
خو اورویل بیا هم دا ټولې ماتې او ناکامۍ مطالعه کړې او دا یې خپلې سیاسي زده کړې وبللې، خو نن همدا ښاغلی د ایالت په کچه قوي او ځیرک سیاستوال دی.
نو بخت مه ملامتوئ، خنډونه وارزوئ. له ماتې سبق واخلئ. زیاتره ستړي او محروم خلک خپل حالت په بدبختۍ بیانوي. دا خلک لا هم خام دي، ماشومانه فکر کوي او دلاسینې غواړي. دوی خپل شرایط نه درک کوي او هغه فرصتونه نه ګوري چې دوی قوي کوي.
نو بخت مه ملامتوئ. بخت ملامتونکی انسان هېڅ بري ته نه دی رسېدلی.
زما یو ملګری نقاد او ادبي مشاور دی، یوه ورځ یې راته د لیکوالۍ د ژوند کیسه کوله، ویې ویل: (زیاتره لیکوالان، لیکوالۍ ته جدي نه ګوري، تر یوه وخت لیکل وکړي، خو بل کار چې پیدا کړي هغه ورته تر لیکوالۍ جدي ښکاره شي او لیکوالي پرېږدي. زما داسې خلک نه خوښېږي، څکه دوی د بري لنډو لارو پسې ګرځي، خو دومره نه پوهېږي چې هېڅ لنډه لاره نشته.
زه دا نه وایم چې د کار دوام ګڼي ستونزه حل کوي، ځینې وخت دا دوام او تعقیب هم هېڅ ګټه نه لري.
زه اوس له داسې لیکوال سره کار کوم چې دوه شپېته لنډې کیسې یې لیکلې، خو یوه یې هم نه ده پلورلې. ظاهراً د لیکوال کېدو هدف کې جدي دی، خو ستونزه پکې دا ده چې لیکوالۍ کې په هماغه یوه لاره روان دی. ټولې کیسې یې په هماغه یوه کلک چوکاټ کې لیکلې دي. نه یې د کیسې په هېڅ برخه، نه په کرکټر، نه په صحنه، نه په ډیالوګ، نه په طرحې ... نه یې ان د لیکوالۍ په سبک کې د نوښت هڅه کړې. اوس ورسره زه مرسته کوم چې څو نوې طریقې او تخنیکونه امتحان کړي. سړی تکړه دی او که د کار په بېلابېلو اړخونو کې تجربې وکړي، نو ډېرې کیسې پلورلای شي. که داسې یې و نه کړل، نو بیا به هم رد او منفي ځوابونه اوري.)
دا مشاور موږ ته یو ښه نصیحت کوي چې موږ باید کار وکړو، خو یوازې همدا کول یې بری نه دی، موږ زیار ویستی شو، هڅه کولای شو، خو بیا به هم ښایي کوم ځای ته ونه رسېږو، ځای ته به هله رسېږو چې دا هلې ځلې له نوښت او تجربو سره ګډې کړو.
اډیسن په نړۍ کې مشهور شخصیت دی. ده له څراغ جوړولو وړاندې زرګونه تجربې وکړې، خو دې ته پام کوئ چې تجربې یې کولې. ده غوښتل چې څراغ جوړ کړي، خپل کار یې کاوه، خپله لاره یې تعقیبوله، خو بري ته هله ورسېد، چې تجربې یې ورسره یو ځای کړې.
یوازې هلې ځلې، دوام او تعقیب بری نه دی، خو که ماتې او تجربې ورسره شي، نو بري ته مو رسولای شي.
څو ورځې مخکې مې د تېلو د لټولو هلو ځلو په اړه یوه مقاله ولوسته. مقاله کې ویل شوي وو چې د تېلو شرکتونه له کوهي کیندلو وړاندې څمکه مطالعه کوي، خو له دې ټولو مطالعاتو سره بیا هم په اتو کې یو کوهی د تېلو او نورو تش وي. د تېلو شرکتونه خپل زیار کاږي، کار تعقیبوي، خو دومره ژور کوهیان نه کیندي، چې خلک ورپورې وخاندي، دوی هله دویم کوهی پیلوي چې د لومړي په ناکامۍ ډاډه شي.
زیاتره خلک کار ډېر ګرم پیل کړي، خو نوې تجربې نه کوي او بېرته ناکامېږي.
خپلو موخو ته وفادار شئ، ویښته هومره شک پکې مه کوئ، خو ټول عمر د زیارت جنډې هم مه ساتئ، چې یوه لاره ناکامه شوه، بله تجربه کړئ.
کوم خلک چې خپل کار تعقیبوي د بري وړتیا لري. دوه لارې درته ښیم، دا به درسره د تجربو په وړتیا زیاتولو کې مرسته وکړي:
۱. ځان ته ووایئ: (که غر لوړ دی، په سر یې لار شته.) ټول فکرونه مقناطیسي دي، که ځان ته مو ووېل چې: (زه مات شوی یم او د حل لاره نشته) نو منفي فکرونه به درته مخ کړي او هر یو به درته دا وایي چې ته رښتیا وایې، هېڅ لاره نشته.
نو اپوټه ووایئ : (که غر لوړی دی په سر یې لار شته)، هره ستونزه حل لري، دې سره به مثبت فکرونه خپله درشي او په لارې موندلو کې به درسره مرسته وکړي.
همدا باور مهم دی چې هره ستونزه حل او غر پر سر لار لري.
د ګډ ژوند مشاورین وایي تر څو چې د واده یو اړخ یا دواړه اړخه دا هوډ ونه کړي چې مینه او صمیمت به بېرته راوړي، تر هغې د دې رشتې ساتلو لپاره هېڅ مثبت ګام نه پورته کېږي.
ارواپوهان او خیریه کارکوونکي پر دې باور دي، چې تر څو شرابي دا هوډ و نه کړي چې شراب پرېښودی شم، تر هغې یې نه شي پرېښودی.
هر کال زرګونه نوې دندې رامنځته کېږي، خو له اوسه تر پنځه کاله وروسته به لږ خلک کار کوي، زیاتره خلک چې ماتې وخوري بیا به وایي: (ولا سیالي سخته وه، مجبور شوم چې میدان مو پرېښود.) ستونزه دا ده، زیاتره خلک چې کار کې ستونزې سره مخ شي، نو ماتې ورته ښکاري او بلاخره ماتېږي.

**دوام لري...**

# سلام پوهنتون

حمیدالله حمیدي




سلام پوهنتون خپلې رسمي چارې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې د دریو پوهنځیو ( انجنیري، اقتصاد او شرعیاتو) په درلودلو سره د لوړو زده کړو وزارت له منظورۍ وروسته پیل کړې او عملاً یې په یادو دریو پوهنځیو کې محصلین د زده کړو لپاره جذب کړل. له دوو کالو هڅو او پرمختګ وروسته، یاد پوهنتون وتوانېد چې د لوړو زده کړو وزارت په منظورۍ، د دوو نورو پوهنځیو (حقوقو او سیاسي علومو او کمپیوټر ساینس) جوازونه هم واخلي او په دغو پوهنځیو کې هم محصلین جذب کړي. د سلام پوهنتون د محصلینو مدیر ښاغلی فرویز ستانکزی وایي، اوسمهال دغه پوهنتون ټولې پنځه پوهنځي ( انجنیري، اقتصاد، شرعیات، حقوق او سیاسي علوم او کمپیوټر ساینس) لري.
ښاغلی ستانکزی وایي، په لومړي سر کې یې د محصلینو شمېر دومره ډېر نه و، خو د وخت په تېرېدو سره یې د محصلینو شمېر زیات شوی دی. نوموړی وایي، اوسمهال سلام پوهنتون د خپلو پنځو پوهنځیو په بېلابېلو ډیپارټمنټونو کې لږ تر لږه څلور زره محصلین لري، چې دېرش یا څلوېښت سلنه یې ښځینه او پاتې نور یې نارینه محصلین دي. د دغه پوهنتون له بېلابېلو پوهنځیو څخه تر اوسه پورې په ټوله کې ۱۳ دورې محصلین د لېسانس په کچه فارغ شوي دي، چې د ښاغلي ستانکزي په خبره، شمېر به یې نږدې څلورو زرو ته رسېږي. نوموړی وایي، ډېری فارغ شوي محصلین یې په دولتي او غیر دولتي ادارو کې په ښو بستونو کار کوي.
سلام پوهنتون د ښځینه او نارینه محصلینو لپاره بېلابېل ټولګي لري، په دې مانا چې ښځینه او نارینه محصلین په یوه ټولګي کې زده کړې نه کوي. ښاغلی ستانکزی وایي، د محصلینو اړتیا او دندو ته چې په دولتي یا غیر دولتي ادارو کې یې لري، بېلابېل درسي ټایمونه برابر کړي دي. نوموړی وایي، دغه پوهنتون د ورځې په دریو وختونو کې محصلین د زده کړو لپاره ورغواړي، چې یو ټایم یې د سهار له اتو تر یوولس نیمو، دویم ټایم یې له یوې تر څلورو او دریيم ټایم یې هم له پنځو د شپې تر اتو بجو پورې دی.
د دغه پوهنتون د محصلینو مدیر وایي، سلام پوهنتون هڅه کوي چې د تدریس چارې یې مسلکي او داسې کسانو ته وسپاري، چې د زده کړو درجه یې لږ تر لږه د دوکتورا او ماسټرۍ تر کچې پورې وي. ستانکزی وایي، ډېری استادان یې د دوکتورا او ماسټرۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې لري او ډېره کمه سلنه استادان به یې لېسانس وي. نوموړی وایي، هڅه یې دا ده چې د خپلو هغو استادانو لپاره چې لا یې دوکتورا او یا ماسټري نه ده کړې، په کور دننه او بهر کې د لا نورو لوړو زده کړو زمینه برابره کړي، څو یې په راتلونکې کې ټول استادان دوکتورا او یا ماسټري ولري.
سلام پوهنتون په کور دننه او بهر دواړو کې له پر مختللو پوهنتونونو سره علمي اړیکې او هوکړې لري. د دغه پوهنتون د محصلینو مدیر وایي، په افغانستان کې له ډېرو دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره اړیکې لري، خو تر څنګ یې د نړۍ له ۱۱ معتبرو پوهنتونونو سره هم علمي اړیکې او هوکړې لري، چې له مخې یې خپل استادان او محصلین د زده کړو او نورو وړتیاوو لوړولو لپاره دغو هېوادونو ته استوي. ښاغلی ستانکزی وایي، هڅه یې دا ده چې دغه اړیکې لا نورې هم پیاوړې کړي او له مخې یې وکولای شي هر کال ډېر پر شرایطو برابر محصلین بهرنیو هېوادونو ته د زده کړو او یا هم نورو وړتیاوو لوړولو لپاره واستوي. نوموړی وایي، له بهرنیو پوهنتونونو سره یې د اړیکې او هوکړې یوه موخه دا هم ده، چې د دغو پوهنتونونو له تجربو څخه په خپل کریکولم او تدریس کې ګټه واخلي، پر کارپوه، مسلکي او د کار مارکېټ ته په کتو کسان ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي.
سلام پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي په دوو ډیپارټمنټونو ( فقه او اصول فقه او بل هم تفسیر او حدیث) په برخه کې د ماسټرۍ پروګرام لري. دا چې لوړو زده کړو وزارت د ولسمشر د فرمان پر اساس په خصوصي پوهنتونونو کې د نویو پوهنځیو ایجادول او د ماسټرۍ پروګرامونو پیلول ځنډولي دي، نو د ښاغلي ستانکزي په خبره، چې له دویم ځلي پیل سره سم به یې لومړۍ هڅه دا وي، چې په ځینو نورو پوهنځیو کې هم د ماسټرۍ پروګرامونه پیل کړي او محصلین ورته جذب کړي.
سلام پوهنتون د نارینه او ښځینه محصلینو لپاره بېلابېل کتابتونونه لري. د ستانکزي په خبره، دا چې په سلام پوهنتون کې د ښځینه او نارینه محصلینو لپاره په بېلابېلو ټولګیو کې تدریس کېږي، نو دغه راز یې کتابتونونه او د مطالعې ځایونه هم ورته بېل کړي دي. دی وایي، د ښځینه او نارینه محصلینو لپاره دوه مجهز کتابتونونه لري، چې ډېر درسي او علمي کتابونه چې سافټ او هارډ دواړه برخې لري، موجود دي. نوموړی وایي، محصلین او استادان یې کولی شي وخت ناوخت له دغه کتابتون څخه د خپلې مطالعې او څېړنې لپاره ګټه واخلي.
سلام پوهنتون په هره برخه کې، هغه څه چې د یوه محصل اړتیا بلل کېږي او د لوړو زده کړو وزارت په قانون کې یې یادونه شوې وي، د خپلو محصلینو لپاره برابر کړي دي. د دغه پوهنتون د محصلینو مدیر وایي، د محصلینو لپاره یې د زده کړو اکاډمیکه فضا، ترانسپورټ او کتابتون په پام کې نیولي دي. د دې تر څنګ، دغه پوهنتون هڅه کوي، چې وخت ناوخت د خپلو محصلینو د تجربو او وړتیاوو لوړولو لپاره بېلابېل ورکشاپونه، سمینارونه او کورسونه دایر کړي، څو یې محصلین تجربې تر لاسه کړي او له فراغت وروسته د خپل ځان لپاره دنده پیدا کړي او په خپله دنده کې پرمختګ وکړي.
دغه پوهنتون د خپلو محصلینو لپاره د تخفیف بېلابېلې کټګورۍ لري. ښاغلی ستانکزی وایي، دوی هر کال د شهیدانو د وارثینو، بېوزلو او هغو کسانو لپاره چې نه شي کولی پر خپل شخصي لګښت لوړې زده کړې وکړي، ځانګړی تخفیف په پام کې نیولی دی. نوموړی وایي، دوی د خپلو ممتازو محصلینو لپاره هم تخفیف لري، چې پر شرایطو برابر کسان پکې شاملېږي. دی وایي، داسې محصلین هم لري چې په وړیا ډول د لېسانس او ماسټرۍ دواړو برخو کې پر زده کړو بوخت دي.
ښاغلی ستانکزی وایي، دا چې سلام پوهنتون د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ او د همدغه وزارت د قانون په رڼا کې فعالیت کوي، نو یوازینی هغه پوهنتون دی چې د خپلو محصلینو لپاره یې له لوړو زده کړو وزارت څخه تایید شوي ډیپلومونه تر لاسه او خپلو فارغ شویو محصلینو ته یې ویشل. نوموړی وایي، د تحصیلي اسنادو اړوند کارونه ټول خپله مخ ته وړي او کله چې محصل فارغ شي، له قانوني مراحلو مخ ته بېولو وروسته ډېر ژر خپل تحصیلي اسناد تر لاسه کولی شي. نوموړی وایي، د فارغ شویو محصلینو لپاره یې د ډیپلومونو د وېش لړۍ لا هم روانه ده.
د سلام پوهنتون اداره د خپل دغه بنسټ د لا پرمختګ لپاره ډېر پلانونه لري. د دغه پوهنتون اداره وایي، اصلي موخه یې ټولنې ته خدمت کول او د داسې کسانو وړاندې کول دي، چې د هېواد په ابادۍ کې ونډه واخلي. ښاغلی ستانکزی وایي، غواړي په راتلونکې کې د خپلو پوهنځیو شمېر زیات او په ځینو پوهنځیو کې د ماسټرۍ پروګرامونه هم پیل کړي. دغه پوهنتون پر کابل سربېره، په بغلان ولایت کې هم یوه څانګه لري؛ خو ستانکزی وایي، هڅه یې دا ده چې په ننګرهار او بدخشان کې هم خپلې څانګې پرانیزي، چې په دې اړه یې لا له وړاندې د لوړو زده کړو وزارت ته وړاندیز هم کړی دی، خو تر اوسه پورې یې مثبت ځواب نه دی تر لاسه کړی.
په ټوله کې د خصوصي پوهنتونونو اساسي ستونزه د ځایونو نشتون او د لوړو زده کړو وزارت لخوا له هغوی سره مرسته نه کول دي. د خصوصي پوهنتونونو اتحادیه وایي، لوړو زده کړو وزارت او په ټوله کې افغان حکومت باید تر هغه وخته پورې د خصوصي پوهنتونو لاس نیوی وکړي، څو دغه پوهنتونونه پر ځان بسیا او د خپلو ودانیو او ملکیتونو څښتن شي. د دغو پوهنتونونو لپاره اساسي ستونزه د ځای ځایګي ده، چې ډېر کله له یوه ځای څخه بل ځای ته انتقالېږي او دغه څه یې نامه او کیفیت ته زیان رسوي. د سلام پوهنتون د محصلینو مدیر وایي، د دې تر څنګ لوړو زده کړو وزارت اوس د خصوصي پوهنتونونو لپاره د نویو پوهنځیو او یا هم د ماسټرۍ پروګرام پیلولو بهیر ځنډولی دی، چې دغه څه د دغو پوهنتونونو د پرمختګ په مخ کې تر ټولو ستر خنډ دی.

روغتیا

# آیا غذاهای چرب باعث افسردگی و کاهش سروتونین می‌شوند؟

ترجمه: احمد فردوسی

تحقیقات تازه نشان می‌دهند که میان رژیم غذایی و افسردگی، ارتباطاتی مولکولی وجود دارد. آیا این قضیه صحت دارد؟ همه ما تقریباً می‌دانیم که رژیم غذایی پر از میوه، سبزیجات و غذاهای گیاهی برای بدن مفید است. اما هیچ وقت به اثرات چربی در رژیم غذایی بر روح و روان خود اندیشیده‌ایم؟ تحقیقات نشان می‌دهند که رابطه مستقیمی میان رژیم غذایی سرشار از چربی و افسردگی وجود دارد. در یک تحقیق به شیوه دقیق اثرگذاری رژیم پر از چربی بر عملکرد شناختی افراد پرداخته شده است. برای بررسی بیشتر این موضوع تا پایان این مقاله همراه ما باشید.

رابطه میان رژیم غذایی پر از چربی و افسردگی چیست؟

برای بررسی دقیق‌تر ارتباط میان غذاهای چرب و ابتلا به افسردگی، محققان در پوهنتون کالیفرنیا در سانفرانسیسکو، پوهنتون گلاسگو و کالج کینگ، تعدادی موش را در بازه زمانی سه تا هشت هفته در معرض رژیم غذایی پر از چربی قرار دادند. در این مدت، رفتارها و واکنش‌های موش‌ها از نظر ابتلا به افسردگی بررسی شد.

در طول مدت تحقیق از دو آزمایش تعلیق دُم (tail suspension) و آزمایش‌های شنا (swim tests) برای بررسی افسردگی در موش‌ها استفاده شد. این دو آزمایش، تحقیقاتی برای ارزیابی تغییرات خلق و خو در موش‌ها در تحقیقات تجربی هستند. در این آزمایش‌ها تفاوت میان موش‌هایی که رژیم غذایی پر از چربی داشتند (٦٠ درصد کالری مورد نیازشان از طریق چربی تأمین می‌شد)، با موش‌های گروه کنترل که رژیم غذایی متعادل داشتند، مورد مقایسه قرار گرفتند.

همانطوریکه انتظار می‌رفت، موش‌هایی که از رژیم غذایی پرچربی استفاده می کردند، رفتارهای‌شان در طول مدت آزمایش با نشانه‌هایی از افسردگی همراه بود. آنها در آزمایش‌های شنا و تعلیق دُم بسیار منفعل‌تر از موش‌های دیگر بودند. بی‌میلی به تحرک، یکی از نشانه‌های افسردگی است. علت بی‌تحرکی موش‌ها به خاطر اضافه وزن ناشی از مصرف چربی‌ها نبود، بلکه ریشه در تغییرات کیمیایی مغزشان داشت. یعنی افزایش چربی در رژیم غذایی، بروز واکنش‌های رفتاری توأم با افسردگی را افزایش می‌دهد.

رابطه میان اختلال در عملکرد شناختی و مصرف چربی‌ها چیست؟

برای کشف رابطه میان مصرف چربی و افسردگی، دانشمندان دست به تحقیقاتی متعددی زده‌اند. آنها با تکنیک‌های عکس‌برداری در پی کشف ارتباطات مولکولی میان مصرف چربی و افسردگی بوده‌اند. تصاویر صحی حاکی از آن بوده است که مصرف چربی زیاد باعث تجمع اسیدهای چرب در هیپوتالاموس موش‌ها می‌شود. نتیجه چنین چیزی، ایجاد اختلال در سیگنال‌دهی طبیعی پروتین‌هاست.

دانشمندان معتقدند که مصرف رژیم غذایی مملو از چربی نهایتاً موجب تجمع اسیدهای چرب در بدن به ویژه در هایپوتالاموس می‌شود و مستقیماً روی پروتین پی.کی.ای(PKA) اثر می‌گذارد. یعنی مسیر سیگنال‌دهی که منجر به فعال شدن افسردگی می‌شود.

دستاوردهای صحی درباره چربی و افسردگی چیست؟

این دستاوردها بسیار مهم هستند. زیرا در درجه نخست به تعریف فرایندی می‌پردازد که طی آن چربی زیاد موجب تغییراتی در خلق و خو می‌شود. البته چربی زیاد در رژیم غذایی مستقیماً روی تولید سیروتونین و انتقال‌دهنده‌های عصبی دیگر بدن اثر نمی‌گذارد. اما عملکرد طبیعی هایپوتالاموس را مخدوش می کند و علائم افسردگی را افزایش می‌دهد.

در هر حال، دستاوردهای این تحقیقات می‌تواند به درمان افسردگی به ویژه در کسانی که به واسطه اضافه وزن افسرده هستند، کمک شایانی کند. توسعه مولکول‌هایی که موجب عملکرد طبیعی هایپوتالاموس می‌شوند، به ساخت داروهای ضد افسردگی کمک خواهد کرد. داروهایی که به طور اختصاصی برای افراد چاق یا دارای اضافه وزن ساخته می‌شوند.

## د سولې ولسي حرکت: طالبان هم سوله غواړي او موږ هڅه کوو چې د دوی په اړه ذهنیت جوړونه وکړو

د سولې ولسي حرکت غړو ویلي، چې له وسله والو طالبانو سره یې په هېواد کې د اوربند، سولې او د امریکایانو پر وتلو خبرې کړې دي.

دا په داسې حال کې ده چې نږدې یوولس ورځې مخکې د سولې ولسي حرکت غړو د هلمند له مرکز لښکرګاه څخه د دغه ولایت د وسله والو طالبانو تر واک لاندې ولسوالۍ موسی کلا ته پلې حرکت پیل کړ.

د کاروان غړي یادې ولسوالۍ ته له رسېدو سره سم د وسله والو طالبانو له لوري ونیول شول او نامعلوم ځای ته انتقال شول، خو طالبانو وروسته ورځ ببرته را خوشي کړل.

د دغه حرکت مشر اقبال خیبر په لښکرګاه کې یوې خبري غونډې ته وویل، چې له تېر یو کال راهیسې په بېلابېلو سیمو کې دوی هڅې کولې، څو د سولې په تړاو له طالبانو سره خبرې وکړي.

هغه زیاته کړې چې د تېر اختر په دربیمه یې وکولای شول، چې په موسی کلا ولسوالۍ کې له طالبانو سره خبرې وکړي.

هغه زیاته کړې چې له طالبانو سره دوی د اوربند، سولې، د امریکایانو پر وتلو او د سولې ولسي حرکت د فعالیتونو په تړاو خبرې کړې، خو د طالبانو ځواب یې تر اوسه نه دی تر لاسه کړی.

نوموړي دغه راز زیاته کړې: «د طالبانو په اړه د خلکو ذهنیتونه تر اوسه نه دي جوړ. طالبانو له موږ سره سم چلند وکړ، ښه مېلمه پالنه یې وکړه، موږ هم کوښښ کوو چې د طالبانو په اړه د خلکو ذهنیتونه جوړ کړو».

په ورته وخت کې د دغه حرکت بل غړي غلام سرور غفاري ویلي: «کله مو چې له طالبانو سره خبرې وکړې، نو موږ پر دې یقیني شوو چې طالبان هم سوله غواړي».

د نوموړي په خبره، موسی کلا ولسوالۍ ته د سولې ولسي حرکت غړو سفر دا ښودوه، چې د دغه حرکت غړي په هېڅ پورې نه دي تړلي او یوازې د سولې لپاره هلې ځلې کوي.

د یادونې ده چې نږدې یو کال وړاندې د سولې ولسي حرکت له هلمند ولایت څخه پیل شو، چې بیا وروسته نورو ولایتونو ته هم وغځېد. د دغه حرکت غړو تر اوسه د پلازمېنې کابل په ګډون، ډېرو سیمو ته پلې مزلونه کړي دي او په کابل کې یې د ځینو بهرنیو سفارتونو له استازو سره هم لیدلي دي.

## اعتراض کوونکو په غزني کې د ولسمشریزو ټاکنو د توکو د لېږد مخه نیولې ده

په غزني کې اعتراض کوونکو ولسوالیو ته د ټاکنیزو توکو د انتقال مخه نیولې او ټینګار یې کړی چې له ولسمشریزو ټاکنو سره یو ځای باید د دغه ولایت د ولسي جرګې ټاکنې هم وشي.

دا په داسې حال کې ده چې تېر کال د تلې په ۲۸مه او ۲۹مه په ۳۳ ولایتونو کې د ولسي جرګې ټاکنې وشوې، خو په غزني ولایت کې د ناامنیو او ځینو نورو اختلافونو له امله دغه ټاکنې نامعلومې نېټې ته وځنډېدې.

بل لور ته ټاکل شوې ده چې ولسمشریزې ټاکنې د روان کال د زمري په نهمه وشي، چې د دغو ټاکنو د ترسره کېدو لپاره پخوا لوجستیکي توکي ولایتونو ته انتقال شوي او اوس یې ولسوالیو ته د لېږد لړۍ پیل شوې، څو په راتلونکو ټاکنو کې د ګډون لپاره د رایه ورکوونکو نوملیکنه وکړي.

خو په غزني کې لسګونه اعتراض کوونکي د دغه ولایت د ټاکنو کمېسیون مخې ته را ټول شوي او ولسوالیو ته یې د ټاکنیزو توکو د انتقال مخه نیولې ده.

د دغو کسانو له ډلې ابراهیم امیري پژواک خبري اژانس ته ویلي، څو چې د غزني د اوسېدونکو حق نه وي ورکړل شوی، ټاکنیز توکي ولسوالیو ته نه شي انتقالېدلای.

هغه زیاته کړې: «موږ یې مخه نیولې، اجازه نه ورکوو، اوس د غزني خلک را ویښ شوي، حق یې باید ورکړل شي».

هغه دغه راز ټینګار کړی چې له ولسمشریزو ټاکنو سره یو ځای باید د غزني د ولسي جرګې ټاکنې هم وشي.

اعتراض کوونکو دغه راز ګواښ کړی چې که غوښتنې یې ونه منل شي، نو د غزني د ټاکنو کمېسیون دروازه به وتړي.

د یادو څرګندونو په غبرګون کې د غزني د ټاکنو کمېسیون رییس نصیر مومند ویلي، چې ځینو اعتراض کوونکو د ټاکنیزو توکو د انتقال مخه نیولې ده.

هغه ویلي: «ما اعتراض کوونکو ته وویل چې ستاسو غوښتنه زما له صلاحیته ډېره لوړه ده، دغه غوښتنه په کابل کې له چارواکو سره شریکه کړئ، څو د حل یوه لار ورته پیدا کړي».

مومند له اعتراض کوونکو غوښتي چې د یادو توکو انتقال ته اجازه ورکړي، ځکه د وخت په تېرېدو او د توکو په نه رسېدو امکان لري چې د ټاکنو پر وړاندې نورې ستونزې هم راپیدا شي.

## د امریکا کانګرېس د دغه هېواد له بهرنیو چارو وزارته غوښتي چې په افغان سوله کې د ښځو حقونو ته پاملرنه وکړي

د امریکا د کانګرېس شاوخوا ۷۵ کسیزې ډلې د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر ته لیک استولی او د افغانستان د سولې په مذاکراتو کې یې د ښځو پر ګډون ټینګار کړی دی.

په دغه لیک کې د کانګرېس غړو ټینګار کړی، چې له طالبانو سره د سولې د هر ډول موافقې په صورت کې دې د افغان ښځو د حقونو د خوندیتوب ضمانت وشي.

په یاد لیک کې چې د کانګرېس څه باندې ۷۵ غړو لاسلیک ورباندې کړی، راغلي: «اوس چې د امریکا متحده ایالاتونه د افغانستان د جګړې د ختمېدو لپاره هلې ځلې کوي، موږ ټینګار کوو چې په دې مذاکراتو کې په برابر ډول د افغان مېرمنو استازیتوب ډاډمن کړي او دا چې هره موافقه دې د ښځو حقونه خوندي کړي».

په دغه لیک کې سره له دې چې د افغانستان د دولت او وسله والو مخالفینو تر منځ د بین‌الافغاني مذاکراتو د زمینې برابرولو لپاره د امریکا له هڅو ستاینه شوې، په دې اړه اندېښنه هم ښودل شوې چې په دې ترڅ کې ښځې له مذاکراتو لرې پاتې شوې دي.

دوی ویلي، له فبرورۍ تر مې میاشتې پورې د قطر په پلازمېنه دوحه کې د امریکایي ډیپلوماټانو او طالبانو ترمنځ په خبرو کې ښځې ګډون نه لري.

په یاد لیک کې د افغان مېرمنو هغو لاسته راوړنو ته اشاره شوې، چې په تېرو اتلسو کلونو کې یعنې په افغانستان کې د طالبانو د واکمنۍ تر ړنګېدو وروسته یې تر لاسه کړې دي.

په لیک کې د امریکا د سولې انسټېټیوټ د راپور په حواله لیکل شوي، چې په افغانستان کې څه باندې ٦٨ زره ښځې په ښوونځیو او پوهنتونونو کې پر کار بوختې دي، لږ تر لږه لس زره ډاکټرانې او روغتیاپالانې دي، دغه راز ویل شوي چې ځینو خلاقو مېرمنو په دغه هېواد کې شاوخوا ۷۷ زره افغانان هم پر دندو ګومارلي دي.

د امریکا د کانګرېس غړو په دغه لیک کې د هغه قانون یادونه کړې، چې کانګرېس د هېواد په چارو کې د ښځو د رول د اهمیت په پام کې نیولو سره تصویب کړی او بیا ولسمشر ډونالډ ټرمپ لاسلیک کړی دی.

د امریکا د کانګرېس غړو ویلي، نه یوازې د ښځو د حقونو په برخه کې، بلکې د افغانستان د راتلونکي په اړه هم د افغان مېرمنو غږ باید واورېدل شي.

دا لیک داسې مهال استول شوی چې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد په همدې موخه دا مهال د افغانستان په ګډون، د سیمې او ځینو اروپايي هېوادونو پر سفر بوخت دی.

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۹,۷۰ |
| € | ۸۹,۵۰ |
| Rp. | ۵۳۸ |
| ₹ | ۱۱۳۰ |
| ¥ | ۱۱,۳۰ |
| £ | ۱۰۰,۳۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily






یکشنبه د ۱۳۹۸ د غبرګولي ۱۹مه | د ۲۰۱۹ د جون نهمه | درېیم کال | ۳۸۳یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۳۰ | ۳۵ | ۴۰ | ۳۵ | ۴۱ |
| ۱۲ | ۲۰ | ۲۲ | ۲۲ | ۲۴ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۶ | لمر ختل ۰۴:۴۰ | ماسپښین ۱۱:۵۳ | مازیګر ۰۳:۳۹ | ماښام ۰۷:۰۵ | ماخوستن ۰۸:۵۰

نړۍ




## یافته‌های تازه: یازده در صد امور حکومت وحدت ملی از سوی ٦٢ سرپرست پیش برده شده‌است



از آغاز حکومت وحدت ملی تا حال، ٦٢ تن به حیث سرپرست وزیر از چند روز تا حدود دو ونیم سال در ٢٥ وزارت کار کرده اند. بر اساس یافته‌های آژانس خبری پژواک؛ از این ٦٢ تن، ٤٤ تن از حدود یک تا ٢٩ ماه خلاف قانون سرپرست بوده اند؛ زیرا بیش از دو ماه به حیث سرپرست کار کرده اند. این درحالی است که به اساس قانون سرپرستی، هیچ کس نمی‌تواند در ادارات دولتی، بیش از دو ماه به حیث سرپرست کار کند. همچنان به اساس فقرۀ یازده مادۀ ٦٤ قانون اساسی افغانستان، تعیین وزراء، لوی څارنوال، رئیس بانک مرکزی، رئیس امنیت ملی و رئیس جمعیت هلال احمر افغانی، به تائید ولسی جرگه از صلاحیت های رئیس جمهور می باشد. اما یافته های پژواک نشان می دهد که پس از ایجاد حکومت وحدت ملی در هفتم میزان سال ۱۳۹۳، تا زمان تهیه این گزارش (پنجم ماه جوزای سال روان)، به تطبیق این ماده توجه چندان نشده و بر علاوۀ شماری ریاست‌ها در وزارت‌های مختلف، ٢٥ وزارت از سوی سرپرستان اداره شده است. در کُل، حکومت افغانستان ٢٥ وزارت دارد؛ اما اخیراً وزارت مبارزه با مواد مخدر با وزارت امور داخله و وزارت ترانسپورت با وزارت فواید عامه مدغم شده اند؛ اما هنوز امور مربوط به ادغام آن ادامه دارد.

در زمان حکومت وحدت ملی، هر کدام این وزارت‌ها برای مدتی از سوی سرپرستان اداره شده است.

از زمان کار حکومت وحدت ملی، حدود ٥٦ ماه می‌گذرد. یافته های پژواک نشان می‌دهد که در این مدت، امور حکومت به گونۀ میانگین از هر صد روز، یازده روز از سوی سرپرست وزیران پیش برده شده‌است. از میان وزارت‌ها، بیشتر از همه وزارت معادن و کمتر از همه وزارت امور مهاجرین از سوی سرپرستان اداره شده‌است.


CoAR 1989

**هماهنگی کمک ها برای افغانها**

**Coordination of Afghani Relief**

## اعلان داوطلبی

موسسه هماهنگی کمک‌ها برای افغانها (CoAR) به کمک مالی ECW تصمیم دارد، به شاگردان عودت کننده از مهاجرت وبیجاشده گان متاثر از جنگ‌های داخلی ولایت کندهار ولسوالی‌های میوند، سپین بولدک، دامان، تخته پل، ارغنداب و زیری کیتهای معلمین خریداری نماید. انعده شرکت‌های لوژستیکی که دارایی تجربه کاری مرتبط، لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af الی (12/06/2019) به دست آورد و افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.

**خانه نمبر ١٦٧٦، مقابل محب زاده مارکیت، پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل.**

procurement@coar.org.af

CoAR 1989

**هماهنگی کمک ها برای افغانها**

**Coordination of Afghani Relief**

## اعلان داوطلبی

موسسه هماهنگی کمک‌ها برای افغانها (CoAR) به کمک مالی ECW تصمیم دارد به شاگردان عودت کننده از مهاجرت و بیجاشده گان متاثر از جنگ های داخلی ولایت کندهار ولسوالی های میوند، سپین بولدک، دامان، تخته پل، ارغنداب و ژیری کیت‌های معلمین خریداری نماید. انعده شرکت‌های لوژستیکی که دارایی تجربه کاری مرتبط، لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت .www.acbar.org af الی (12/06/2019) به دست آورد و افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.

**خانه نمبر ١٦٧٦، مقابل محب زاده مارکیت، پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل.**

procurement@coar.org.af

CoAR 1989

**هماهنگی کمک ها برای افغانها**

**Coordination of Afghani Relief**

## اعلان داوطلبی

موسسه هماهنگی کمک‌ها برای افغانها (CoAR) به کمک مالی ECW تصمیم دارد، به شاگردان عودت کننده از مهاجرت وبیجاشده گان متاثر از جنگ‌های داخلی ولایت کندهار ولسوالی های میوند، سپین بولدک، دامان، تخته پل، ارغنداب و ژیری کیت‌های صنف خریداری نماید. انعده شرکت‌های لوژستیکی که دارایی تجربه کاری مرتبط، لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af الی (12/06/2019) به دست آورد و افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.

**خانه نمبر ١٦٧٦، مقابل محب زاده مارکیت، پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل.**

procurement@coar.org.af

CoAR 1989

**هماهنگی کمک ها برای افغانها**

**Coordination of Afghani Relief**

## اعلان داوطلبی

موسسه هماهنگی کمک‌ها برای افغانها (CoAR) به کمک مالی ECW تصمیم دارد، به شاگردان عودت کننده از مهاجرت وبیجاشده گان متاثر از جنگ‌های داخلی ولایت کندهار ولسوالی های میوند، سپین بولدک، دامان، تخته پل، ارغنداب و ژیری خیمه‌های صنف خریداری نماید. انعده شرکت‌های لوژستیکی که دارایی تجربه کاری مرتبط، لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af الی (12/06/2019) به دست آورد و افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.

**خانه نمبر ١٦٧٦، مقابل محب زاده مارکیت، پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل.**

procurement@coar.org.af